مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

زمریال نا اشنا ۲۰۱۸/۰۶/۱۱

# تر کومه طالبان او له هر څه انکار !!؟

طالبان د سیاسي ډیالوګ او سولې جراات نه لري او په هره موضوع کې د مخالفت او انکار په ښودلو سره، د هېڅ په لور تېښته کوي.

وايي همغه زاړه جوګیان او زاړه تومارونه. پخوا به د پاکستان استخباراتو داسې تومارونه جهادي تنظیمونو ته جوړول. هغه جلا وخت و او اوس جلا وخت دی. هغه وخت په داسې انکارونو سره یوشمېر جهادي تنظیمونو ته موقع په لاس ورغله چې د کابل پر حکومت کودتا وکړي، واک په لاس کې واخلي او تر څو کلونو یې پخپل انحصار کې وساتي. د دغه کار نتیجه د یو نامشروع حکومت رامنځته کېدل، اردو له منځه تګ، د وسلو چورکېدل او د یوشمېر جهادي قوماندانانو له خوا یې پر پاکستان پلورل، تنظیمي جګړې، بې قانوني، د کابل ښار کنډواله کېدل، د ټول هېواد بې سرپرسته کېدل، د هېواد دښمنانو ته موقع په لاس ورکول، مذهبي، ژبني، تنظیمي، قومي او نورو تربګنیو ته لار هواربدل، ان د نړۍ په کچه د سیاسي اسلامي جریانونو بدنامه کېدل او زوال او نورې سلګونه بدبختۍ چې په پای کې همدغو طالبانو یې په وړاندې پاڅون وکړ او د ولس په ملاتړ یې د هېواد له ۹۵ سلنه خاورې د تنظیمي جریانونو د واک تېغر ورټول کړ او که خلک کومه ښه خاطره له طالبانو لري، نو له همدې کبله به یې لري.

اوس نو پوښتنه دا ده چې کوم جهادي تنظیمونه، له سولې انکار او جګړه یې چې پخوا د طالبانو بد ابسېده اوس یې خپله ولې په پل روان دي؟

د جهادي تنظیمونو د ځان غوښتنې، نه خبرو کولو او د پلورالیزم د نه منلو او واک د انحصار له کبله وه، چې ۴۰ کلونه په هېواد کې جګړه روانه ده، ورځ تر بلې هېواد د بدبختۍ کندې ته ولوېږي، له ګاونډیانو کمزورې کېږي، ګاونډیان مو خاوره لاندې کوي، اردو مو په پښو نه درېږي، وسلې او پیسې ورته نه لرو، ټول خلک نن پښېمانه دي او وايي که مجاهدینو له ډاکتر نجیب الله سره ګډ حکومت جوړ کړای، اردو او وسلې یې ساتلې وای، نو دا اوسنۍ بدبختۍ به نه راتلې، نه به ګاونډیانو پرموږ رادانګلی شوای او نه به ناټو او نورو ته دا اړتیا پیدا کېدای چې د تروریستانو پلټنه یې زموږ په کلیو او غرونو کې کولای.

که تاسو نن په کابل کې وګورئ ډېرې خلکو د ډاکتر نجیب عکسونه پخپلو موټرونو وهلي او که ترې پوښتنه وکړي، نو د هغه خبرې او پېش بینۍ به درته کېسه وکړي، چې د جهادي تنظیمونو د انحصار غوښتنې، د خبرو او سولې نه کولو سیاستونو په وړاندې یې کړې وې.

اوس طالبانو ته هم په کار ده، چې د انکار او خبرو نه کولو سیاست پرېږدي او د جهادي تنظیمونو او د پاکستانیو استخباراتو لار دې بیا نه تکراروي او خلک دې بیا نه اړ باسي چې تاریخ پرې دویم وار تکرار او بیا د دویم وار لپاره هم پښېمانه شي.

طالبان باید پوه شي، چې خلک هم اوس هغسې نه دي پاتې چې یو ګړنګن ببر ستې او بې نمازه دې د جهاد په نوم د ده کور په راکټ ولي، بچې دې ورته ووژني او د خپل کور په اور کې وسوځوي، د کور دستکې او کړکۍ دې ورته وکاږي او دې به ورته خړې خړې ګوري، والله چې پوستکې یې ورته له بوسو وردېک کړي.

طالبان دې همدا اوس پام وکړي او و دې ګوري، چې د سولې له خبرو په تېښتې سره نور په عمومي انظارو کې د دوی په وړاندې بدلون راغلی او د پخواني ولسمشر کرزي صاحب هغه خبره یې ور په یاد شي، چې پخپلې واکمنۍ کې یې طالبانو ته کړې وه، ته چې سوله نه کوې او د سولې خبرو ته نه کېنې او امریکایان هم په افغانستان کې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلو ځواکونو د حضور اړتیا تا او ستا جګړه بولي، نو بیا له امریکایانو سره لاس لرې چې ته ورته جګړه کوې او هغه ستا د جګړې په پلمه له ملکه نه وځي.

طالبان به تر کومه وکولای شي چې د سولې له خبرو او سیاسي ډیالوګ نه په تېښتې سره خپل ځانونه او سیاستونه پټ وساتي، لاس تر زنې دې د واک نیولو ته ناست وي، په داسې حال کې چې خلک پوهېږي نور د سولې وخت راغلی، خلک سوله غواړي او د جګړې هر هغه اړخ چې سوله نه کوي او جګړه غواړي، ورځ تر بلې به راپرځي، رسوا کېږي او بالاخره ناکامېږي به او له منځه به ځي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ